# ACCESS for ELLs څه ده؟

## د ACCESS for ELLs انګلیسی ژبې زده کړه هغې مسلکي آزموینې ته ویل کېږي، چې د زده کوونکي د انګلیسي ژبې علمي کچه تثبیتوي.

ستاسو ماشوم به د ELL لخوا په داسی حال کې وپېژندل شی، چې د خبرې کولو تر څنګ، کولای شی خپلي ټولي زده کړې په انګلیسی ژبه تر سره کړي. ELL په هره کال کې د انګلیسی ژبه آزموینه اخلي.

د آزموینې اخیستنه، ښوونکو سره مرسته کوي ترڅو وپوهېږي چې زده کوونکي په ټولګیو کې د حاضرېدو لپاره، ترکومه بریده ژبنی مهارت ترلاسه کړی دی. ستاسو د ماشوم ښوونکی به د آزموینې د پایلو له لاری ستاسو د ماشوم د روزنې ښه والي لپاره تصمیم نیسی.

د آزموینی پایلي یا نمري به ښوونکي ته د انګلیسی ژبی علمی روزنیز پرمختګ په هکله مرسته کوی او همداراز د دی لپاره چې کوم انګلیسی پروګرام څخه باید ملاتړ وشی، د ښوونځي اداري ته هم د ارزښت وړ بلل کیږي. تاسو کولای شئ په ښوونځي کې د خپل ماشوم لپاره د آزموینې معلوماتي اوراقو څخه کار واخلي.



### ELL

د انګلیسی ژبي زده کوونکي یا ELL هغه زده کوونکی ته ویل کیږی چې د دی ترڅنګ چې نورو صنفونو سره خبری کولی شی، په بشپړه توګه په انګلیسی ژبه زده کړه نیسی. ELLsپه هر کال کې تر آزمویلو لاندی نیول کیږی تر څو ښوونکي ته د انګلیسی ژبي مهارت کچه څانګړی شی، مګر تاسی حق لری چې ژبنی ملاتړ ومنی یا یې رد کړي.

### ژبنی مهارت یا مسلک

د ژبنی مهارت کچه، هغه سنجولو ته ویل کیږي چې د زده کوونکي ژبنی مهارت پرمختګ بهیر سنجوی او په ګوته کوی. کله چې زده کوونکی د ژبني وړتیا بېرلوړ درجو ته رسیږي، نور به ژبنی لوستو ته اړتیا نلری.



## د ACCESS for ELLs ارزونه:

- ACCESS for ELLs به په لیکلي ډول، او پاېو یا هم په کمپیوټری بڼه ورکول شی.
- د وړکتون زده کوونکي ته به د ځوان روزونکي لخوا کیسی او فعالیتونه وړاندی شی.
- د معلولینو او معیوبینو لپاره به د حمایوی ټیم لخوا په ځانګړي ډول د ACCESS for ELLs آزموینه واخیستل شی. په دغه بهیر کې لازیات حمایوی توکی او آسانتیاوی چمتو شوي دي تر څو زده کوونکی له بیلابیلو لارو څخه د ځواب ورکولو وړتیا ترلاسه کړي.

**د آزموینو د پلانونه په هکله د ACCESS for ELLs ښوونکو سره خبري وکړئ.**

ستاسو ماشوم د ACCESS for ELLs ویلو ته ضرورت نلری. آزموینه د زده کوونکي لپاره یو خدمت دی چې په انګلیسي ژبه پوهېدو او د اړیکي نیولو ټولې لارې چارې په نښه کوي.

آزموینی ته حاضریدو څخه مخکی باید د خپل ماشوم خوب پوره کیدو او خواړه خوړلو څخه ډاډمن شی.

تاسی کولای شی د آزموینې پایلو ترلاسه کولو وخت، په ښوونځی کې د نمرو کاراخیستلو طریقه او د انګلیسی ژبی مهارت بدلونو په هکله د خپل ماشوم ښوونکي سره خبره وکړئ.

---

## هغه پوښتنې چې کولای شئ مطرح یې کړئ:

- ماشوم به کله ACCESS for ELLs ترلاسه کړی؟
- زه به کله د خپل ماشوم د ACCESS for ELLs آزموینې نمرې ترلاسه کړم؟
- په علمی انګلیسی ژبي زده کړي پرمختګ کې به د آزموینې نمرو به څرنګه مرستندوی واقع شی؟
- که چیری زما ماشوم د ژبی لوستلو بهیر ودروی، تاسی به څه تصمیم ونیسئ؟

په Wisconsin-Madison پوهنتون کې، ویدا روزنیز او څیړنیز مرکز په توګه تاسیس شوی. د Wisconsin-Madison پوهنتون پلاوی په ۲۰۲۰ کال کې د ویدا لخوا رامنځته شو.